# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي اتمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۹مه | ۴۸۷ یمه گڼه


## د جگړې تود ډگر او سوله؛
## طالب مشران پر موقت لس ورځني اوربند هوکړې ته رسېدلي دي


۳

### ارگ لا هم د سولې په لاره کې خنډ جوړوي؟
۲ مخ

### افغان جگړه او د امریکا بدلېدونکې تگلاره
۲ مخ

### پر افغانستان د شوروي د یرغل لومړی شپې څنگه تېرې شوې؟
۳ مخ

## د پاکستان سفارت: سر له ننه به افغانانو ته د وېزې ورکولو کارونه بېرته پیل شي

په کابل کې د پاکستان سفارت ویلي، چې سر له ننه به د وېزې ورکولو څانگه بېرته د افغانانو پر مخ خلاصه کړي.

د پاکستان سفارت پر خپل ټوېټر د یادې څانگې د بېرته فعالېدو خبر ورکړی دی. یاد سفارت لیکلي: «د پاکستان سفارت خوشالي څرگندوي چې نن(د ډسمبر په ۲۹مه) د کونسلي چارو خدمات بیا فعالوي».

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د تېرې نومبر میاشتې په دربیمه د ځینو لاملونو له مخې، په کابل کې د خپل سفارت د وېزې ورکولو څانگه تر نامعلومه وخته پورې وتړله. دغه هېواد ویلي وو چې یاد کار یې په کابل کې خپلو مامورینو ته د متوجه امنیتي گواښونو له امله کړی دی. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت هغه مهال په یوه اعلامیه کې ویلي وو، چې دفتر ته پر لار د دوی مامورین د ناخرگندو کسانو له خوا ځورول شوي دي.

خو افغان حکومت هغه مهال ویلي وو چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د ادعاوو په اړه څېړنې کوي.

د یاد سفارت د معلوماتو پر اساس، هره ورځ ۱۵۰۰ تنه په کابل کې د پاکستان سفارت ته د وېزې اخیستلو لپاره مراجعه کوي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د افغانستان او پاکستان تر منځ ډیپلوماټیکي اړیکې له ستونزو سره مخ شوې چې له امله یې افغان حکومت په پېښور کې خپله کونسلگري تړلې، چې تر دې مهاله یې د بېرته خلاصولو په اړه راپور نه دی ورکړل شوی.

## شکایتونو کمېسیون دې ثبت شویو شکایتونو ته د څېړلو لپاره لازم وخت مشخص کړي


۲ مخ

## پوهنتون
۴ مخ

### ازهر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

په ازهر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې د تدریس چارې د ۱۴۲ استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي، چې ۴۰ سلنه یې د دوکتورا او پاتې نور یې د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.




## سوداگرۍ وزارت: د هوايي دهلیزونو له لارې ۱۰۷۰۰ ټنه افغاني تولیدات بهر ته صادر شوي



د سوداگرۍ او صنایعو وزارت ویلي چې په افغانستان کې د هوايي دهلیزونو د کار له پیل څخه تر اوسه ۱۰۷۰۰ ټنه افغاني تولیدات بهر ته صادر شوي دي.

د دغه وزارت ویاند سمیر رسا ویلي چې دغه تولیدات په څه باندې یو زرو ۴۴ پروازونو کې اسیایي، اروپایي او عربي هېوادونو ته صادر شوي دي.

نوموړي ویلي چې د افغانستان محصولات هره ورځ له کابل، کندهار، مزار او هرات څخه په دریو یا څلورو پروازونو کې بېلابېلو هېوادونو ته انتقالېږي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د بلخ د سوداگرۍ خونې ویلي، چې له بلخ څخه اروپا ته د هوايي دهلیز کارونه په څنډ سره تر سره کېږي او په تېر یوه کال کې یوازې لس ټنه سوداگریز توکي لندن ته انتقال شوي دي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې بهر ته د افغاني توکو د صادراتو لپاره له هوايي دهلېزونو څخه گټه اخیستل کېږي.

## ارگ: هیئت مذاکره کننده پس از توافق امریکا و طالبان معرفی می‌شود



ارگ ریاست جمهوری می گوید که پس از نهایی شدن توافق صلح میان امریکا و طالبان، حکومت افغانستان فهرست نام‌های اعضای هیئت گفت‌وگو کنندۀ صلح را همگانی خواهد کرد. درانی جاوید وزیری، معاون سخن‌گوی ریاست جمهوری می‌گوید که این هیئت، نماینده‌گی از حکومت افغانستان می کند و همزمان با آغاز گفت‌وگوهای میان افغان، معرفی خواهد شد.

بانو وزیری در این باره می‌افزاید: «زمانی ایشان [طالبان] با هیئت امریکایی به نتیجه نهایی برسند و آمادۀ آغاز گفت‌وگوها با ملت افغانستان شوند، ما حاضر هستیم که هیئت مذاکره کننده خویش را معرفی و بفرستیم».

حکومت به‌منظور گفت‌وگو با طالبان، هیئتی را مشخص کرده‌است؛ اما جزئیات دربارۀ این هیئت و این‌که چه کسانی مشمول این هیئت استند، هنوز روشن نشده‌است.

حکومت هرچند بر آغاز گفت‌وگو با طالبان تأکید دارد، اما این گروه هنوز خواست حکومت در این باره را نپذیرفته‌است.

این درحالی است که طالبان و ایالات متحده در حدود یک سال است که گفت‌وگوهای شان دربارۀ صلح جریان دارند.

منابع نزدیک به طالبان گفتند که دو طرف روی یک آتش‌بس کوتاه مدت در افغانستان به توافق رسیده‌اند. به گفتۀ این منابع، این توافق در پی سفر یک هیئت طالبان به پاکستان و رایزنی با شوراهای این گروه در این کشور، بدست آمده‌است.

جلال‌الدین شینواری، لوی څارنوال دورۀ طالبان می گوید که این آتش‌بس برای یک هفته خواهد بود.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### ارګ لا هم د سولې په لاره کې خنډ جوړوي؟

د طالبانو او امریکا تـر منځ ډېر ژر د سولې هوکړې د لاسلیک احتمال شته. وال سټریټ ژورنـال رپوټ ورکـړی چـې د ملا هیبـت الله په مشرۍ د طالبانـو رهبرۍ شورا د یـوې اونـۍ اوربند تایید کړی او ډېر ژر به عملي شي. د سولې تـر هوکړې وړاندې د امریکا له خـوا پر طالبانـو د لس ورځنـي اوربند شرط ایښودل شوی و. که څه هم طالبانـو د دې شرط د منلو یا نـه منلو په اړه په رسمي ډول څـه نـه دي ویلي، خـو لـه قطره د طالبانو یو پلاوی کوټې تـه تللی و او هتله یې له طالب مشرانو سره په دې تړاو مشورې کولې.

اټکل دی چې په جنوري کې بـه د طالبانو او امریکا تـر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شي او پـه دې سره بـه د سولې د خبرو پـه برخه کـې مهم پرمختګ وشي. لـه دې پرمختګ سره سره یـوه اساسي ستونزه لا هـم پر ځـای ده، چې هغـه د بیـن الافغاني خبرو لانجه ده. طالبـان لا هـم لـه حکومت سره مخامخ خبرې نـه کـوي او حکومت هم غـواړي هر څـه د دوی پـه مالکیت او مشرۍ وي. طالبانـو پـه خپل دریځ کـې یـو بدلـون راوستلی او منلې یې ده چې لـه داسـې افغـان پلاوي سره بـه خبرې کـوي چې حکومت یـې هـم برخـه وي. پـه دې پلاوي کې به د بېلابېلو سیاسي ډلو او قشرونو استازي وي. داسـې ښکاري چـې امریکا د طالبانـو دا نرمښت منلی او هڅـه کـوي چـې حکومت یـې هـم منلـو تـه تیار کـړي. خلیلزاد د خپـل ماموریت لـه پیـل سره سـم او بیـا لـه هغـه وروسته بیـا بیـا لـه افغـان حکومت څخه غوښـتي چـې یـو ټولمنلـی پـلاوی وټاکـي چـې پکـې پـر حکومتـي استازو سربېره، د سیاسي ګوندونـو، مـدني ټولنـو، ښځو او نـورو برخـو استازي هـم وي. حکومت بیـا بیـا ژمنـه کـړې چـې دا پـلاوی بـه ټاکـي، خـو تـر اوسـه پـورې یـې نـه دی ټاکلـی. کـه څـه هـم د سولې لپاره د سولې پر عالي شـورا سربېره د سولې وزارت، نـورې شـوراګانې او پلاوي هـم جوړ شـول، خو اصـلي غوښـتنه لا هـم نـه ده عملي شـوې چې هغـه د یـو ټولمنلـي افغـان پـلاوي ټـاکل دي، چـې د ولس پـه استازیتوب به لـه طالبانو سره خـبرې کـوي.

اوس تـازه ارګ ویـلي چـې دوی بـه پـلاوی هغـه وخت اعلان کـړي چـې د طالبانـو او امریکا تر منځ هوکړه لاسلیک شي. له بده مرغـه دا ډېر ناسم دریځ دی چـې د خنډ جوړولو بوی ترې راځـي. رښـتیا دا دي چـې حکومت تـر اوسـه پـورې پـلاوی نـه دی ټاکلـی. د سیاسـتوالو، سیاسي ګوندونو او ارګ تـر منځ د پـلاوي پـر سر اختـلاف دی. ارګ غـواړي هـر څـه پـه خپـل کنټـرول کـې ولـري او آن د سیاسي ګوندونـو استازي هم پخپله خوښـه وټاکـي، خو سیاسـتوال بیـا غـواړي د ارګ واک او ځـواک محدود کـړي. لـه همدې املـه ستونزه ده او دا ستونزه تـر اوسـه هـم نـه ده حل شـوې.

ارګ تـه پـکار ده چې له سـولې سره دومره سوړ چلنـد ونـه کـړي. د طالبانـو او امریکا تـر منځ لـه توافـق وروسـته د هیئـت ټـاکل، پـه واقعیت کـې لـه سـولې سره نه علاقه ښـیي. حکومت ته پـکار ده چـې همـدا اوس د پـلاوي ټاکلـو لپـاره کوټـلي ګامونه واخلي، له سیاسـتوالو، سیاسي ګوندونـو او نـورو برخو سره مشورې وکـړي او ژر لـه خپلـه اړخـه پـلاوی وټاکـي. لـه دې پرتـه بـه د امریکا او طالبانـو تـر منځ سوله وشي، خو د افغانانـو تـر منځ به جګړه دوام کـوي. کـه خدای مـه کـړه داسـې وشي، نـو د دې هر څـه مسوول بـه د ارګ اوسـني واکمنـان وي چې غـواړي هر څـه د خپل واک او ځـواک د دوام قرباني کـړي.

# افغان جګړه او د امریکا بدلېدونکې تګلاره

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د افغـان جګـړې پـه اړه د امریـکا پـه د ننـه کـې نظر ورځ تـر بلـې منفـي کیـږي، امریکایـي رسـنۍ پـه دې اواخـرو کې چې یـوه لـور ته د سـولې خبرې د بـل هر وخت پـه پرتلـه حسـاس پـړاو تـه داخلـې شـوې او بـل لـور تـه پـه افغانسـتان کـې د امریکا د ماتـې، زیاتـو لګښـتونو، مرګ‌ژوبلـې او بـې پایلې جګـړې پـه اړه مطالـب خپروي، تېـره اونـۍ واشـنګټن پوسـټ ورځپاڼـې راپـور خپـور کـړ، چـې سـپیني ماڼـۍ بیـا بیـا خپـل ملـت تـه د افغـان جګـړې پـه اړه دروغ ویـلي، پـه دې اړه دوه زره پاڼـې اسـناد هـم د واشـنګټن پوسـټ لاس تـه ورغـلي، چـې امریکایـي چارواکـي یـې لا زیـات د افغانسـتان پـه تـړاو تـر فشـار لانـدې راوسـتلي دي. امریکایـي رسـنۍ بیـا بیـا دا وایـي چـې امریکا په افغانسـتان کـې د دومـره لګښـتونو، مرګ‌ژوبلـې او دوام‌موندونکـې جګـړې په بـدل کې حالت نـه یـوازې د ښـه کېـدو لـور تـه نـه ځـي، بلکـې طالبان پیاوړي شـوي، د ټول هېواد لـه ۵۰ سـلنې زیاتـه خـاوره یـې پـه کنټرول کـې راوسـتې، د امریکا لـه حمایت څخه برخمـن حکومـت کمـزوری شـوی، فسـاد زیـات شـوی، بـشري حقونه تر پښـو لاندې شـوي او هېڅ داسـې څه نشته چې امریکا یـې نـړۍ او امریکایـي ولـس تـه د یـوې لاسـته راوړنـې پـه توګـه وړانـدې کـړي.

پـر افغانسـتان د امریـکا بریـد او د دې بریـد پایلـې څـه وې؟ د واشـنګټن پوسـټ لـه لـوري خپـور شـوی راپـور او د امریـکا بدلېدونکـې تـګلارې ته کتنـه هغه څه دي چـې د دې اونـۍ پـه تحلیـل کـې مـو پرې شـننه کـړې ده.

**پر افغانستان د امریکا برید ته ځغلنده کتنه**

پـر افغانسـتان د شـورویانو د یرغـل پـر مهـال، افغـان ولـس او امریـکا د ګـډ دښـمن لـه کبلـه یـو بـل تـه نـږدې شـول او امریـکا د شـورویانو پـر ضـد پاڅېدلـو جهادي خوځښـتونو سره مرسـتې کولې او پـه پایله کې شـوروي اتحاد په افغانسـتان کـې ماتـې وخوړلـه، د شـوروي اتحـاد د ړنګېـدو له کبلـه نه یوازې دا چـې د برلین دېـوال ونړېـد، بلکـې ډېـر نـور هېوادونـه هـم خپلواک شـول. خـو پـه بـل اړخ کې د شـورویانو له وتلو سره په افغانسـتان کې د کورنـۍ جګـړې لمبـې اوچتې شـوې، چې پـه پایلـه کـې یـې د طالبانو امارت جـوړ شـو، نو ځینې عربان د اسامه بن لادن او د ده د ملګرو په شـمول په افغانستان کې مېشـت وو، چـې لـه طالبانو څخـه وړاندې د اسـتاد ربـاني حکومـت پنـاه ورکـړې وه. پـه ۱۹۹۸ ز کال کـې د طالبانـو او امریکا تـر منـځ او بیـا د طالبانـو او سـعودي تـر منـځ د اسـامه پـر سر شـخړې پیدا شـوې، چـې لـه کبله یـې څـو ځلـه د امریکایانو له خـوا پـر افغانسـتان توغندیـز بریدونـه هـم وشـول؛ خـو وروسـته چـې پـه امریکا کـې د سـپټمبر د ۱۱مې بریدونه وشـول، یو ځل بیـا د اسـامه پر سر شـخړې زور واخیسـت او امریکایانـو پـه همـدې پلمـه، چـې یـاد بریدونـه پـه افغـان خـاوره کـې د اسـامه له لـوري پـلان شـوي، پـر افغانسـتان بریـد وکـړ.

**د جګړې پایلې**

امریـکا طالبـان لـه واکـه لـرې کـړل، خـو دې ډلـې پـه افغانسـتان کـې اوږدمهالـه جګـړه پیـل کـړه. د افغانسـتان جګـړه د امریـکا پـه تاریـخ کـې تـر ټولـو اوږده جګـړه ده. اوس چـې د امریکا پـر جګـړې ۱۸کلونـه تېرېـږي، د امریـکا د دفـاع وزارت د شـمېرو لـه مخـې، یـوازې ۲۳۸۶ امریکایـي سرتېري په دې جګـړه کې وژل شـوي او لسـګونه زره نـور ټپیـان شـوي او د امریـکا لـه خـوا پـرې تقریبـاً یـو ټریلیون ډالـره مصـارف هـم راغـلي دي؛ خـو نـه د دوی پـه اصطـلاح «تروریـزم» ختم شـو، نه طالبان!نـه یې‌هـم افغانسـتان تـه سـوله راوړه او نـه یـې هـم د یـوه باثباتـه نظام بنسـټ کېښـودلای شـوی؛ بلکـې دلته پر دې نظـام د نـړۍ تـر ټولـو د فاسـد هېـواد نښـان لګېدلـی، پـه مخـدره مـوادو کـې د نـړۍ ۹۰ سـلنه تقاضـا پـوره کـوي او ورځ تـر بلـې پکـې امنیـت او ثبات خپـل ځای ناامنیـو او بـې ثباتـۍ تـه پرېږدي، چـې تـر اوسـه پـورې لسـګونه زره افغانـان پکـې شـهیدان شـوي او لا دوام لـري.

**د واشـنګټن پوسـټ لـه لـوري خپـاره شـوي راپـور تـه کتنـه**

واشـنګټن پوسـټ ورځپاڼې د افغان جګـړې پـه اړه د محرمـو اسـناد پـه را برسېره کولـو سره ادعـا کـړې ده، چـې پـه تېـرو ۱۹ کلونـو کـې امریکایـي حکومتونـو د افغـان جګـړې پـه اړه خپلو خلکو ته پـه مکرر ډول دروغ ویـلي دي. پـه یـاد راپور کـې راغلي: «د امریـکا جګـړې سیاسـي او پوځـي چارواکـي پـه بېلابېلو پړاوونو کـې پوهېدل چـې افغـان جګـړه نـور د ګټلـو نـه ده، خـو خپـل ولـس تـه یـې داسـې پیغـام ورکاوه چـې ګواکـې هلته هـر څه سـم روان دي». یاد اسـناد کابو ۲۰۰۰ پاڼې دي او د هغې فـدرالي پـروژې برخـه دي، چـې د افغـان جګـړې د ناکامیـو او نیمګړتیـاوو د ارزونـې لپـاره تر سره شـوې وه. په دې اسـنادو کې لـه جګـړو امریکایـي پوځـي جنرالانـو، ډیپلوماتانـو، خیریـه کار کوونکـو او افغـان چارواکـو سره مرکـې شـوې دي. جنـرال ډګلس لـوټ د جورج بـوش او بـارک اوباما پـه واکمنیـو کـې د افغـان جګـړې پـه برخه کې د سـپیني ماڼۍ یو مهم سـلاکار پاتې شـوی. نومـوړي پـه خپله مرکه کې داسـې ویـلي: «امریکایان اصلاً په افغانسـتان کې پـر دې نـه پوهېـدل چې هلته څه کـوي او د څـه تـر لاسـه کولـو لپـاره افغانسـتان تـه تللـي». نومـوړي زیاتـوي، د امریـکا د دفاع وزارت، د بهرنیـو چـارو وزارت او کانګرېـس چارواکـي د افغـان جګـړې پـه اړه یوه خوله نـه وو. د امریـکا د دفـاع وزارت د شـمېرو لـه مخـې، لـه ۲۰۰۱ ز کال راهیسـې کابـو ۷۷۵۰۰۰ امریکایـي پوځیانـو پـه افغانسـتان کې ماموریت تـر سره کړی دی او ځینـې یـې تـر یـو ځـل ډېر هلتـه تللي. لـه دې ډلـې شـاوخوا ۳۰۰۰ وژل شـوي دي او تـر ۲۰ زرو ډېـر پـه افغانسـتان کـې د ماموریت پـر مهال ټپیان شـوي. که څه هـم د دې کسـانو هویـت نـه دی ښـودل شـوی، خو ډېرو کسـانو په خپلو څرګندونو کـې د افغان جګړې او د امریکا پر ناپوهۍ او ناسـمو تـګلارو او پرېکړو سـختې نیوکې کـړې دي.

پـه خپـرو شـویو اسـنادو کـې راغـلي چـې د افغـان جګـړې د ارزونـې او پلټنـې دې فـدرالي پـروژې جوتـه کـړې ده، چـې د امریـکا درې ولسـمشران (جـورج بـوش، بـارک اوبامـا او اوسـنی ولسـمشر ډونالـډ ټرمـپ) پـه افغـان جګـړه کـې پاتـې راغلي او دوی هـم پـر دې بانـدې پوهېـږي، چـې یـاده جګـړه دوی بایللـې. همدارنګـه دوی پـه افغانسـتان کـې د فسـاد پـه مخنیـوي، د افغـان امنیتـي ځواکونـو پـه سـمه روزنـه او سمبالښـت او د نشـه یـي توکـو د کرکېلـې پـه ختمولـو کـې پاتې راغـلي. پـه یـادو اسـنادو کـې راغـلي، چـې امریکایـي پوځـي او سـیاسي چارواکو پـه لـوی لاس د افغانسـتان د وضعیت په اړه خپلو خلکو ته دروغ ویـلي او هڅـه یـې کـړې چې خپلې نیمګړتیـاوې او ناکامـۍ پټـې او د بـري ادعـاوې وکـړي.

**پایله**

د امریکایـي چارواکو له کړنـو او څرګندونو خـو داسـې معلومېـږي، چـې دوی پـه افغانسـتان کـې دې پایلـې تـه رسـېدلي، چـې د خپلـو موخـو د پاللو لپـاره د جګـړې پـه ډګـر کـې لـه ماتـې سره مخ دي. دوی لـه دې وېرېـږي چـې د پخوانـي شـوروي اتحـاد تجربـه تکرار نـه کـړي، نـو دې پایلې تـه رسـېدلي چـې پـه خپلـه تګلاره کـې ژور بدلـون راولـي، له طالبانو سره د جوړجاړي، د خپلـو ځواکونـو د ایسـتلو او یـا هـم کمولـو او نـورو بدلونونـو له لارې غـواړي په افغانسـتان کې خپله تـګلاره بدله کـړي. دا چـې دا بدلـون بـه څـه ډول وي او امریـکا بـه خپلـې ګټـې څنګـه خونـدي کـوي، دا جـلا بحـث دی، خـو اوس پـکار ده چـې افغانـان د دې تـګلارې لـه بدلـون سره یـو داسـې بدلـون تـه لاره هـواره کـړي، چـې دلتـه لـه څلـورو لسـیزو دوامـدارې جګـړې تـه د پـای ټکـی کېښـودل شي او ځـای یـې سـوله ونیـسي. د دې لپـاره لومـړی کار دا دی، چـې نـور بایـد لـه افغانانـو سره دښـمني، کرکـه او جګـړه چـې پـه هـر نوم وي، ختمـه شي. هغـوی چـې لـه امریـکا سره پـه دوسـتۍ کـې لـه خپلـو خلکـو سره پـه تېرو اتلسـو کلونـو کې په دښـمنۍ کې وو، دا حالـت بایـد نـور ختـم کـړي. امریـکا لـه طالبانـو سره یـوې هوکـړې ته د رسـېدو پـه موخه له هرې ممکنـې لارې کار اخلي، دوی بـه لـه طالبانـو سره یـوې هوکـړې تـه رسـیږي، چـې دا حالـت د افغـان جګـړې بیرونـی اړخ دی، چـې تـر سره کیـږي او په دې سره بیـن الافغـاني خـبرو اتـرو تـه لاره هواریـږي، نـو د بیـن الافغـاني خـبرو اترو د پیـل او کامیابېـدو لپاره ټـول دخیل اړخونه (طالبـان، حکومـت او احـزاب) د خپـل خـدای او ملـت پر وړاندې مسـوولیت لري، چـې د څلوېښـت کلنـې پـردۍ جګـړې ټغر چـې پـر افغانانـو بانـدې تپـل شـوې ده، نـور لـه خپلـې خـاورې ټـول کـړي، لـه دې فرصـت څخـه داسـې اسـتفاده وکـړي لکه څرنګـه یـې چـې پـه ۲۰مـه پېـړۍ کـې روسـانو او پـه ۲۱مه پېـړۍ کـې امریکایانو تـه د جګـړې پـه ډګـر کـې تاریخـي درس ورکـړ. دا ځـل د سیاسـت پـه ډګـر کـې هم دا ثابته کـړي چـې افغانان په سیاسـت کـې هـم تاریخونـه جوړولـی شي.

## ځارونکي بنسټونه: شکایتونو کمېسیون دې ثبت شویو شکایتونو ته د څېړلو لپاره لازم وخت مشخص کړي

پر ټاکنو ځارونکي بنسټونه وایي چې د شکایتونو کمېسیون دې ثبت شویو شکایتونو ته د څېړلو لپاره د اړتیا وړ لازم وخت مشخص کړي.

دا په داسې حال کې ده چې وروسته له هغې چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وویل چې په ټاکل شویو پنځلسو ورځو کې ټولو شکایتونو ته رسېدنه نه شي کولای، پر ټاکنو د ځار ځینو بنسټونو ویلي، دغه کمېسیون دې څرګنده کړي، چې په څومره موده کې ټولو شکایتونو ته رسېدنه کولای شي.

د رڼو ټاکنو بنسټ یا ټیفا غړې صغرا سعادت ازادي راډیو ته ویلي: «که د شکایتونو څېړل لا نور وخت هم غواړي، دغه کمېسیون باید له وړاندې وخت مشخصه کړي چې څومره نور وخت غواړي؟ دوی دې یوه نېټه په ډاګه کړي چې خلک پوه شي دغه کمېسیون په ټاکلې موده کې کولای شي د شکایتونو پایلې اعلان کړي».



سعادت ویلي، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون باید د وخت له ضایع هم مخنیوی وکړي.

له دې سره د ازادو او عادلانه ټاکنو د ځار بنسټ یا فیفا اجرایوي مشر یوسف رشید ویلي، د شکایتونو د اورېدو کمېسیون ته پکار ده چې خپل ظرفیت لا زیات کړي.

رشید زیاته کړې چې د پروسې ځنډ به اندېښنو او شکونو ته زمینه برابره کړي.

هغه ویلي: «زموږ اندېښنه هم همدا ده چې د شکایتونو کچه ډېره ده، نو شکایتونو کمېسیون ته پکار ده چې خپل تخنیکي ظرفیت په هغو ولایتونو کې چې شکایتونه پکې زیات دي، ډېر کړي، خو که چېرې دا پروسه نوره هم ځنډېږي، خامخا به د پروسې اوږدوالی اندېښنو او شکونو ته زمینه برابره کړي».

په ورته وخت کې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون غړي محمد قاسم الیاسي تایید کړې چې شکایتونه ډېر دي او په ټاکلې موده کې یې څېړل ناشوني دي.

د دغه کمېسیون په خبره، د ټول هېواد په کچه له دوی سره ۱٦٥٠٠ ټاکنیز شکایتونه ثبت شوي، چې ډېری برخه یې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې دي.

دا شمېر شکایتونه په دریو ورځو کې له ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون سره ثبت شوي دي او یاد کمېسیون د دغه بهیر تر پیل له مخه ویلي وو چې دا لومړی پړاو څېړل به پنځلس ورځې ونیسي.

# پر افغانستان د شوروي د یرغل لومړۍ شپې څنګه تېرې شوې؟

لیکنه: بي بي سي پښتو

د کابل په لوېدیځه برخه تاجبېگ ماڼۍ کې د حفیظ الله امین د وژل کېدو څرنگوالی تر کلونو کلونو نامالوم و.

پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد د ځواکونو د برید په لومړیو شپېو کې د افغانستان د وخت ولسمشر حفیظ الله امین د کابل تاجبېگ ماڼۍ د ننه په خپل استوگنځي کې د کابینې له ځینو غړو سره لومړی مسموم شو او ځینې روایتونه وايي چې د شوروي د پوځیانو له خوا د کورنۍ پر وړاندې په ډزو ووژل شو.

دا د ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر ۲۷مه وه چې د ۱۳۵۸ لمریز کال د جدي/مرغومي شپږمه کېږي او د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو په دې ورځ د ځمکې او هوا له لارې پر افغانستان یرغل وکړ.

د دغه برید په پایله کې د افغانستان د هغه وخت ولسمشر او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند عمومي منشي حفیظ الله امین له واکه لرې او ووژل شو او په دې ډول ببرک کارمل د افغانستان نوی ولسمشر شو.

بي بي سي د هغو رپوټونو په لړ کې چې پر افغانستان یې د پخواني شوروي اتحاد د یرغل په مناسبت جوړ کړي، دا ځل په تاجبېگ ماڼۍ کې د حفیظ الله امین د کورنیو چارو له وزیر فقیر محمد فقیر سره خبرې کړې دي.

فقیر محمد فقیر د حفیظ الله امین د کورنیو چارو وزیر و. هغه په هماغه ورځ له حفیظ الله امین سره کتلي او د دې پېښې شاهد و.

که څه هم روایت به یې له نورو روایتونو او ښایي له واقعیتونو سره توپیر لري، خو نوموړی د هغه څه په اړه وايي چې ادعا کوي د خپلو سترگو لیدلی حال یې دی.

د کابل په لوېدیځه برخه تاجبېگ ماڼۍ کې د حفیظ الله امین د وژل کېدو څرنگوالی تر کلونو کلونو نامعلوم و. د هغه وخت رسنیو یې هم په اړه ډېر څه نه دي خپاره کړي.

تېره اونۍ پر افغانستان د شوروي د یرغل ۴۰ کاله پوره شول. د ۱۹۷۹ ز کال د ډسمبر په ۲۷مه، شوروي اتحاد چې د هغه مهال لوی ځواک و، د مخکیني ۱۹۷۸ ز کال افغان شوروي دوستۍ تړون ساتلو په پلمه پر افغانستان یرغل وکړ.

فقیر د دې ماڼۍ د هغې ورځې پېښې داسې وریادوي: «ما [په هغه ورځ] د کورمې نوابانو ته په دریو بجو د ملاقات وخت اخیستی و. کله چې دغه ځای ته را ورسېدو، دلته دوه تنه ساتونکي ولاړ وو او ما ته یې وویل چې نن به ملاقات ونه شي. ما وپوښتل چې ولې؟ دوی ویل چې امین صېب ناروغ دی».

هغه زیاتوي چې د دغو کلمو په اورېدو سره پر دې پوه شو چې څه کېدونکي دي او وايي چې له دې سره د تاجبېگ ماڼۍ په دریم پوړ کې د ښاغلي امین د استراحت خونې ته لاړ.

هغه په لومړي پوړ کې د هغه مهال د وضعیت په تړاو وايي چې هر څه آرام مالومېدل او ټول کارکوونکي پر خپلو کارونو بوخت وو او د اندېښنې نښې یې د چا په څېره ونه لیدې.

ښاغلی فقیر په دریم پوړ کې د حفیظ الله امین د استراحت خونې ته د رسېدو په تړاو وايي: «کله چې د امین کوټې ته ننوتم، امین صېب د خوب پر تخت پروت و، دوه روسي ډاکټران او د څلورسوه بستر قوماندان ولایت خان ولاړ و او د امین صېب د معدې په مینځلو یې کار کاوه. کله یې چې معده پاکه شوه، نو له تخت څخه یې تشناب ته راوست او تر لسو یا شلو دقیقو یې یخې اوبه پرې راخوشې کړې تر هغه چې په هوښ راغی».

ښاغلی فقیر زیاتوي، له تشنابه له راوتو او په هوښ له راتلو وروسته یې جامې بدلې کړې او بېرته پر خپل پالنگ پرېوت.

د ښاغلي فقیر په خبره، هغه ته په خطاب کې یې وویل: «فقیره! ممکن دغې بې هوشۍ زما پر اعصابو تاثیر کړی وي، زه به استراحت وکړم ته لاندې په سکرتریت کې کېنه».

په هغه ورځ حفیظ الله امین د خپل گوند د سیاسي ځانگې غړې وربللي وو. ښاغلی فقیر وايي چې وروسته داسې معلومه شوه چې زهرجن توکي په سوپ کې ورکړل شوي وو.

ښاغلی فقیر ټینگار کوي چې وروسته روښانه شوه چې په سوپ کې د زهرو اچوونکی کس افغان نه و او د هغه په خبره چې دا «روسی اوزبک» و او دنده یې د پخلنځي کنټرول و.

د تاجبېگ ماڼۍ په دریم پوړ کې د حفیظ الله امین د استراحت له خونې د هغه د کار دفتر ته د بېرته تگ په تړاو ښاغلی فقیر محمد فقیر وايي: «زه چې دفتر ته را کوز شوم، لوی درستیز ماته تلیفون وکړ چې فقیره چېرته یې؟ ما ویل چې زه تاجبېگ تپه کې یم. ویل یې چې راځه ډوډۍ به دلته وخورو او بیا به دواړه تپې ته لاړ شو. زه هم راووتم، په موټر کې کېناستم او لاندې دفاع وزارت ته راغلم».

د حفیظ الله امین دور د افغانستان په تاریخ کې د افغانستان له راډیو د ببرک کارمل له هغو ټکو سره ختم شو، چې د حفیظ الله امین رژیم یې فاشیست وباله او خلکو ته یې د هغه د رژیم د نسکورېدو مبارکي ورکړه.

هغه مهال د دفاع وزارت ودانۍ د ملي موزیم په څنگ کې په دارالامان کې وه.

که څه هم د ښاغلي فقیر د دغه روایت خلاف ډېر بېل ډول روایتونه یو د دې ورځې په تړاو شته، چې یو له دغو روایتونو دا هم کاږي چې لوی درستیز یعقوب خان هم مسموم شوی و.

خو ښاغلی فقیر وايي چې دفاع وزارت ته په ورتگ سره یې په دویم پوړ کې له لوی درستیز یعقوب خان او ورسره څو روسانو سره تر روغبړ وروسته ډزې واورېدې.

ښاغلی فقیر وايي: «موږ له روسانو سره غټ تړون درلود. دوی په دې پلمه چې ستاسو وسلې راوړو او تاسو ته یې تسلیموو او له هوايي لارې راغلل او په دې پلمه یې پلې ځواکونه راولېږدول».

ښاغلی فقیر ټینگار کوي چې اوس هم پر دې باور دی چې حفیظ الله امین په تاجبېگ ماڼۍ کې نه دی وژل شوی. هغه وايي: «زه خپله په دې عقیده یم چې سفارت ته یې وړی، یا یې په سفارت کې وژلی یا یې روسیې ته وړی».

شوروي ځواکونو په یوه برید کې چې ۴۵ دقیقې یې دوام وکړ، امین د کورنۍ له ځینو غړو سره یو ځای وواژه.

خو ویل کېږي چې شپه مهال د حفیظ الله امین مړی تاجبېگ ماڼۍ ته څېرمه ښخ شو او پر گور یې کومه نښه هم ونه لگېده او د کورنۍ غړي یې څرخي پله زندان ته ولېږدول شول.

په دې ډول په هماغه شپه د حفیظ الله امین د ولسمشرۍ پړاو د افغانستان په تاریخ کې د افغانستان له راډیو د ببرک کارمل له هغو ټکو سره ختم شو، چې د حفیظ الله امین رژیم یې فاشیست وباله او خلکو ته یې د هغه د رژیم د نسکورېدو مبارکي ورکړه.

# د جگړې تود ډگر او سوله؛

## طالب مشران پر موقت لس ورځني اوربند هوکړې ته رسېدلي دي



د امریکا او طالبانو تر منځ د خبرو له دوام سره هممهاله د طالبانو تر منځ پر اوربند د هوکړې راپورونه هم خپاره شوي دي. ځینې طالب سرچینو بهرنیو او کورنیو رسنیو ته منلې چې طالب مشرانو پر اوربند هوکړه کړې ده، چې یوازې د دغه ډلې مشر تر دې دمه لاسلیک کړې نه ده. رسنۍ وايي چې اوربند به په لویو ښارونو کې تر لسو ورځو پورې دوام کوي.

طالبانو ته نږدې سرچینې وايي چې امریکایي لوری او طالبان به پر یو بل بریدونه نه کوي.

تر اوسه طالبانو په رسمي توگه د دغو راپورونو په اړه څه نه دي ویلي. دلته بیا د سولې عالي شورا د اوربند له رامنځ ته کېدو هرکلی کړی دی.

سره له دې چې د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ په دې ورځو کې سختې نښتې کېږي، خو تازه وال سټرېټ ژورنال او ځینو بهرنیو رسنیو راپور ورکړی، چې طالب مشرانو پر اوربند هوکړه کړې ده. د امریکا مذاکراتي ټیم له طالبانو سره د خبرو پر مهال ویلي وو، چې د سولې هوکړه لاسلیک کوي، خو شرط یې دا دی چې طالبان به بین الافغاني خبرو ته تیاری ښیي او همدا راز به اوربند ته غاړه ابږدي. په همدې تړاو د طالبانو یو پلاوی له قطره پاکستان ته لاړ، څو په کوټه او پېښور کې له خپلو مشرانو سره خبرې وکړي. ځینې رسنۍ دا هم وايي چې له قطر راغلي پلاوي په هلمند کې هم له ځینو طالب استازو سره خبرې کړې دي، خو دغه خبر چا تایید کړی نه دی.

کوټې ته د قطر د پلاوي په سفر کې طالب مشرانو پر دې هوکړه کړې، چې اوربند به کوي او د دغه اوربند د وخت په اړه هم ډول ډول راپورونه خپاره شوي دي. ځینې رسنۍ وايي چې اوربند به اووه ورځې وي، خو کابل نیوز ټلوېزیون ته بیا ځینو باوري سرچینو ویلي چې اوربند به تر لسو ورځو پورې وي.

د سرچینې په خبره: ((د طالبانو د قطر دفتر پلاوی له خپل مشرتابه سره تر مشورو وروسته دې پرېکړې ته رسېدلي، چې له امریکا سره د سولې توافق تر لاسلیک وړاندې به د افغانستان په ښاري سیمو کې موقت اوربند اعلانوي)).

طالبانو تر اوسه په رسمي توگه په دې اړه څه نه دي ویلي، خو د سولې عالي شورا بیا د دغو راپورونو هرکلی کړی دی. د دغې شورا وياند له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې د سولې لپاره هر لنډمهاله اوربند گټور دی او د باور فضا پیاوړې کولی شي. د سولې عالي شورا تمه لري چې ژر تر ژره د سولې خبرې یوې پایلې ته ورسېږي او په هېواد کې روانه جگړه ختمه کړي.

بلخوا ارگ بیا وايي چې کله د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شي، نو دوی به هم مرکچي پلاوی وټاکي. د ولسمشر د ویاند مرستیالې درانۍ وزیري ویلي، همدا چې د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شي، دوی به ډېر ژر د بین الافغاني خبرو لپاره مرکچي پلاوی وگوماري. نوموړې په دې اړه معلومات نه دي ورکړي چې په مرکچي پلاوي کې به څوک شامل وي، خو تر دې وړاندې په ځلونو د بین الافغاني خبرو لپاره د مرکچي پلاوي پر گومارل کېدو ناندرۍ او اختلافونه را ولاړ شوي دي.

د سولې او اوربند خبرې داسې مهال خورا تودې شوې، چې د جگړې ډگر هم تود دی. په دې وروستیو ورځو کې په نښتو، چاودنو او عملیاتو کې طالبانو او افغان ځواکونو ته درنې مرگ ژوبلې اوښتې دي. همدا تېره ورځ طالبانو په هلمند کې پر افغان ځواکونو برید وکړ او لس کسه یې ووژل. افغان حکومت هم د اعلامیو په خپرولو تېره ورځ د ډېرو طالبانو د وژل کېدو راپورونه ورکړي دي.

# راپورونه: د سومالیا په پلازمېنه کې موټربم برید ۷۳ تنه وژلي

د سومالیا پلازمېنې موگادیشو له گڼې گوڼې په یوه ډکه سیمه کې موټربم برید لسگونه کسان وژلي دي.

تر اوسه د دغه برید مسوولیت چا نه دی منلی، خو تر دې وړاندې الشباب ډلې د ورته بریدونو پړه پر غاړه اخیستې وه.

د دغه هېواد چارواکو ویلي چې په دغه برید کې ۷۳ تنه وژل شوي دي. بلخوا د دغه هېواد په پلازمېنه کې د مدینه روغتون مشر ډاکټر محمد یوسف اسوشیټېډ خبري اژانس ته ویلي چې روغتون ته یې د پېښې له ځایه ۷۳ جسدونه ور وړل شوي دي.

د موگادیشو د پولیسو یوه چارواکي د فرانسې خبري اژانس ته ویلي چې دغه چاودنه ډېره زوروره او ویجاړوونکې وه.

چارواکو ویلي چې تر اوسه د دې پېښې مسوولیت چا نه دی منلی، خو تر دې وړاندې د الشباب ډلې په دې سیمه کې دا ډول چاودنې کړې دي.

د یادونې ده چې الشباب ډله چې له القاعدې سره تړاو لري، په تېرو لسو کلونو کې یې په دغه هېواد کې بېلابېل عملیات کړي او په ۲۰۱۱ ز کال کې دا ډله له موگادیشو بهر شړل شوې، خو بیا هم ځینې سیمې یې تر ولکې لاندې دي او وخت ناوخت په لویو ښارونو کې مرگوني بریدونه او چاودنې کوي.

په ورته وخت کې د پلازمېنې موگادیشو عیني شاهدانو دغه چاودنه یوه ټول وژنه بللې ده.

د رجب په نوم د سیمې یوه عیني شاهد ویلي: «څه مې چې په سترگو لیدل، یوازې جسدونه وو. ځینې یې د چاودنې له امله وژل شوي او ځینې یې داسې سوځېدلي وو چې د پېژندلو وړ نه وو».

بلخوا د سومالیا د ولسي جرگې یوه استازي د نوم نه ښودو په شرط رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې د وژل شویو شمېر له ۹۰ څخه زیات دی، خو دا شمېرې په رسمي ډول نه دي تایید شوې.

په ورته وخت کې د سومالیا د کورنیو چارو پخواني وزیر هم دغه برید په سختو ټکو غندلی او ټینگار یې کړی چې ډېر ژر به د قربانیانو غچ واخلي.



د یادونې ده چې د رواني میاشتې په لومړیو کې هم د الشباب ډلې د موگادیشو پر یوه مشهور هوټل برید وکړ، چې لږ تر لږه پنځه کسان پکې ووژل شول. په دغه هوټل کې د ډیپلوماټانو، سیاستوال او پوځي افسرانو استوگنځي وو.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریمه برخه

افغانستان

**لسم څپرکی**

**په لوی کندهار کې نوي طالبان**




د طالبانو او غربي مامورینو تر منځ د خبرو راز رسنیو ته ووت چې له ډېرو نیوکو سره مخ شو. طالبان اړ شول د سولې د خبرو روان بهیر ومني. ملا محمدعمر د ۲۰۱۱ز کال د لوی اختر په پیغام کې وویل: ((موږ د خپلو زندانیانو د خوشي کولو لپاره خبرې پیل کړې دي، دا هڅې د سولې د پراخو مذاکراتو په مانا نه دي. اسلامي امارت د یو خپلواک سیاسي او نظامي بنسټ په توګه د سولې خپلواکه اجنډا لري چې په فرصت سره به شریکه شي.))
د ۲۰۱۱ز کال په سپټمبر کې د سولې د عالي شورا رییس برهان الدین رباني په یوه ځانمرګي برید کې ووژل شو، له دې سره د سولې خبرې یو ځل بیا له خنډ سره مخ شوې. طالبانو د ۲۰۱۲ز کال په جنوري کې د قطر په پلازمېنه دوحه کې خپل سیاسي دفتر پرانیست، خو د دې ډلې هغه خوب چې له مخې یې غوښتل خپل زندانیان په لویه کچه خوشې کړي هېڅکله رښتیا نشو. له دې سره د ۲۰۱۲ په مارچ کې طالبانو خپلې اړیکې ودرولې. طالبانو پر امریکایانو تور ولګاوه چې د ګوانتانامو زندان د یوه امریکایي سرتېري په بدل کې د طالبانو د پنځو زندانیانو د خوشي کولو له معاملې یې ډډه وکړه. د ۲۰۱۳ز کال په جولای کې طالبانو په رسمي او ښکاره توګه په قطر کې خپل سیاسي دفتر پرانیست چې د حامد کرزي له نیوکو وروسته سمدستي بیا بند شو. حامد کرزي ویل چې هغوی د افغانستان اسلامي امارت تر نوم او بیرغ لاندې موازي اداره تمثیلوي. طالبانو جګړې ته دوام ورکړ چې په پایله کې یې په ۲۰۱۴ز کال د ناټو ډېر ځواکونه له افغانستان څخه ووتل.

**ملتپاله پاڼه**

طالبانو به په دې اړه ډېرې لږ خبرې کولې چې څنګه غواړي افغان حکومت ته ور وګرځي او هلته به یې راتلونکی چلند او برخلیک څنګه وي. اکثره طالبان پښتانه دي، د طالبانو ټولې چارې هم په پښتو ژبه مخ ته ځي. د هغوی له ځانګړي سلوک او جامو څخه یې هم پښتونوالی له ورایه ښکاري. په بهر کې ټولو فکر کاوه چې طالبان هغه ملت پال کسان دي چې یوازې غواړي پښتانه قدرت ته ورسوي. په ۱۹۹۰ز لسیزه کې طالبان ونه توانېدل چې د پښتنو په شمول د هېڅ قوم قناعت خپل کړي. د طالبانو د رژیم کمزورو تګلارو او له پاکستان سره اړیکو یې ولسي ملاتړ پیکه کړی و. د پخوانیو حکومتونو له پښتنو مشرانو سره د طالبانو دښمنۍ د دې ډلې د حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راوستی و.
طالبانو له ولسي او قومي سیاست سره لږ لېوالتیا لرله. د طالبانو ټولې چارې پر انډیوالۍ ولاړې وې، هغوی قومي یووالي او پښتونولۍ ته پاملرنه نه کوله، په ختیځ افغانستان او نورو پښتني سیمو کې یې د جرګې اصولو (بیې) ته هېڅ درناوی نه کاوه. دا دلایل وو چې پښتنو طالبان خپل استازي نه بلل او نه یې هم منل چې هغوی یې د حقونو لپاره جنګېږي.
طالبانو تل خپل ځانګړی هدف مخکې وړه چې د اسلامي امارت تر نوم لاندې شرعي نظام جوړ کړي. د طالبانو د حکومت موډل او پان اسلامېزم په ترڅ کې قومي سېسټم او ملت پالنه هم کمرنګه شوې وه. د طالبانو د اصولو د کتاب په ۸۵یمه ماده کې یو حدیث راغلی چې وایي د اسلام مبارک دین د قوم، توکم او سیمې پر بنسټ چلند نه کوي. حدیث څرګندوي، هر څوک چې د تفرقې په سبب ووژل شي، هغه د جهالت لپاره وژل شوی ګڼل کېږي. له ۱۹۸۰ز لسیزې څخه پاکستان دا ډول طرحه مخکې وړې، دوی اسلام پال پالي او د اسلام پالو ګوندونو ملاتړ کوي. پاکستان دا کار د طالبانو د بریا لپاره نه بلکې د سېکولر پښتنو د ملت پالنې تر پښو لاندې کولو لپاره یې ترسره کوي.
بل لور، د ملا محمدعمر ځینو سیاسي دریځونو د پښتنو ملت پالو له دریځونو سره ورته والی لاره. کله چې امریکایي ځواکونو د سویلي ولایتونو په کلیوالو سیمو کې طالبان وځپل، هغوی د سیمه ییزو پولیسو د مخنیوي لپاره جدي ګامونه واخیستل. خو د ملا محمدعمر په خبرو کې د قومپالنې پراخ ملته تحرک ښکاره کېده. هغه د ۲۰۰۹ز کال د لوی اختر د مبارکۍ په پیغام کې ویلي وو: ((افغان کمونېستانو د ماتې پر مهال قومي ملېشې جوړې کړې، له دې سره سیالۍ، کرکه او قومي بېلوالی را وپارېده. هغوی د دې ډلو پر مټ غوښتل، له هغو خلکو غچ واخلي چا چې ماته ورکړې وه. اوس امریکایان هم د ماتې پر لور روان دي، دوی هم غواړي ورته تجربه تکرار کړي.))
ملا محمدعمر د غیر مرکزیت او فډرېشن ویناوو او تبصرو ته نبغ ځواب ورکړ. هغه د ۲۰۱۲ز کال د وړوکي اختر په اعلامیه کې ویلي وو: ((هغه چې د افغانستان د وېشلو پلانونه لري، باید پوه شي چې اسلامي امارت به د خلکو په ملاتړ هېڅکله د دې پلان پلي کېدو ته د بریا لاره ورنکړي. اجازه به ورنکړو چې هېواد مو د قومونو او سیمو په نومونو ووېشل شي.)) طالبانو پر امریکایانو تور لګولی و چې ګنې غواړي قومي بې اتفاقۍ راولي، ځکه امریکا د طالبانو له مخالفې شمالي ټلوالي سره همکاري کوله. د طالبانو یوه تحلیل کې لیکل شوي وو: ((د هغوی له راتګ سره یې د افغانستان په شمال کې ځینې ډلې ځواکمنې کړې چې د پښتنو قومونو پر وړاندې وجنګېږي.)) پر ځینو پښتنو قومونو فشارونه زیات شول چې په پایله کې یې شمالي سیمې پرېښودې. د هغوی ځمکې غصب شوې او ان هغوی بې عزته شول. دا ډول کړنې د قومونو تر منځ د واټن او اختلافاتو سبب شوې دي.
**دوام لري...**

# ازهر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




ازهر د لوړو زده کړو خصوصي موسسې له لوړو زده کړو وزارت سره تر ثبت او راجستر وروسته، په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د دوو پوهنځیو (حقوق او سیاسي علوم او شرعیاتو ) په درلودلو سره خپلې چارې پیل کړې او په یادو دوو پوهنځیو کې یې عملاً محصلین جذب کړل. د دې موسسې اداره وتوانېده چې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د یوه بل پوهنځي (ښوونې او روزنې) جواز هم تر لاسه کړي. د دې موسسې سرپرست رییس ښاغلی احمد مسي حامي وایي، په همدې کال یې د اقتصاد پوهنځي جواز هم تر لاسه کړ، خو د ځینو ستونزو له کبله یې په رسمي ډول چارې پیل نه شوې او د ستونزو تر رفع کېدو وروسته، دوی و توانېدل چې سږ کال (۱۳۹۸) د اقتصاد پوهنځي لپاره هم محصلین جذب کړي. اوسمهال د لوړو زده کړو دغه موسسه څلور پوهنځي لري او محصلین پکې د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې کوي.

د ازهر د لوړو زده کړو موسسې د شرعیاتو پوهنځی دوه ډیپارټمنټونه (فقه او قانون او اسلامي تعلیمات) لري، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) لري، اقتصاد پوهنځی یې بیا دری ډیپارټمنټونه (اداره او منجمنټ، ملي اقتصاد او مالي او بانکي امورو) لري او په ښوونې او روزنې پوهنځي کې څلور ډیپارټمنټونه (دری ادبیات، انګلیسي ادبیات، ریاضي او کمپیوټرساینس) لري. ښاغلی حامي وایي، په ښوونې او روزنې پوهنځي کې یې له دې وړاندې ډېر ډیپارټمنټونه درلودل، چې بیاوروسته ځینې یې د لوړو زده کړو وزارت په حکم وتړل شول او اوس یوازې همدا څلور ډیپارټمنټونه پکې فعال دي.

ازهر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال د ۱۳۰۰ په شاوخوا کې محصلین لري، چې څلوېښت سلنه یې ښځینه او پاتې یې نارینه محصلین دي. د دې موسسې د سرپرست رییس په خبره، د نارینه محصلینو لپاره یې بېل او د ښځینه وو لپاره بیا بېل درسي وخت ټاکلی، څو ښځینه محصلینې وکړای شي چې په یوه امنه او ډاډمنه فضا کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. دی وایي، ښځینه محصلینې یې د سهار له خوا او نارینه بیا له غرمې وروسته د زده کړو لپاره ورځي. دا چې دې موسسې تر اوسه پورې پوهنتون ته ارتقاع نه ده کړې، نو د ماسترۍ کوم پروګرام هم نه لري. ښاغلی حامي وایي، کله یې چې پوهنتون ته ارتقاع وکړه، نو غواړي په ځینو پوهنځیو کې د ماسترۍ پروګرام هم پیل کړي.

د لوړو زده کړو له یادې موسسې څخه تر اوسه پورې په شپږو دورو کې لږ تر لږه ۴۰۰۰ محصلین فارغ شوي، چې د ښاغلي مسي حامي په خبره، قانوني تحصیلي اسنادونه یې تر لاسه کړي او ډېری یې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي. ازهر د لوړو زده کړو موسسې به پخوا هر کال د ۲۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذبول، خو ښاغلی حامي وایي، د موسسې لپاره یې نوې او معیاري ودانۍ جوړه کړې ده او د جذب کچه یې لوړه شوې ده، نو اوس دوی کولای شي په خپلو څلورو پوهنځیو کې هر کال د ۶۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلین جذب کړي.

په ازهر د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې د تدریس چارې د ۱۴۲ استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي، چې څلوېښت سلنه یې د دوکتورا او پاتې نور یې د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د دې موسسې سرپرست رییس وایي، پخوا یې ځینې لېسانس استادان هم درلودل، چې د موسسې د علمي بورډ د پرېکړې له مخې، دغه استادان له دندو لرې شول او پر ځای یې دوکتورا او ماسترۍ درلودونکي استادان وګومارل شول. دی وایي، دا چې د هغو ښځینه استادانو شمېر یو څه کم دی چې په اړونده برخه کې د دوکتورا او ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري، خو له دې سره سره دوی بیا هم هڅه کړې ده چې یوه زیاته برخه ښځینه استادانې هم پر دنده وګوماري.

ازهر د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو لپاره څو ډوله تخفیف لري. ښاغلی حامي وایي، په ټوله کې د سمیسټر په پیل کې د هغو محصلینو لپاره چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، ځانګړی تخفیف لري. د دې تر څنګ دوی له ځینو ادارو سره د هوکړو له مخې هغو محصلینو ته چې د دې ادارو له خوا دوی ته ور پېژندل کېږي، مناسب تخفیف ورکوي. ښاغلی حامي وایي، د ښځینه محصلینو، د شرعیاتو پوهنځي د محصلینو او د هېواد د امنیتي ځواکونو د کورنیو د غړو لپاره هم تخفیف لري. ازهر د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو د مطالعې او څېړنې لپاره مجهز کتابتون هم برابر کړی دی. د یادې موسسې سرپرست رییس وایي، تر اوسه پورې لیلیه نه لري او اړتیا یې هم نه ده حس شوې، خو که محصلین ترې وغواړي چې لیلیه ورته برابره شي، دوی به یې په اړه ګام اوچت کړي.

د ازهر د لوړو زده کړو موسسه په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې علمي اړیکې لري او تر څنګ یې له ځینو خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو سره هم د همکارۍ دوه اړخیزې هوکړې لري. ښاغلی مسي حامي وایي، له ځینو نورو خصوصي پوهنتونونو سره یې د هوکړو کارونه پیل کړي، چې په نېږدې راتلونکې کې به ور سره د دوه اړخیزو همکاریو هوکړې لاسلیک کړي. دغه موسسه خپلو فارغ شویو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت له لوري تایید شوي تحصیلي اسنادونه سپاري، چې محصلین کولی شي په کور د ننه او بهر کې د دې تحصیلي اسنادونو په وسیله نورې لوړې زده کړې وکړي او یا هم د دندې په پیدا کولو کې ترې ګټه واخلي. ښاغلی مسي حامي وایي، دوه کاله وړاندې د موسسې او د لوړو زده کړو وزارت تر منځ د دې موسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د ځینو ډیپارټمنټونو پر سر یوه ستونزه را ولاړه شوې وه چې اوس له منځه تللې ده. دی وایي، ټول کارونه یې د قانون په چوکاټ او له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ مخ ته ځي.

د ازهر د لوړو زده کړو موسسې اداره د خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان تر څنګ یو کلن عملیاتي پلان هم لري، چې په هغه کې تر ډېره د محصلینو د وړتیا لوړولو لپاره بېلابېل پروګرامونه موجود دي. دغه موسسه غواړي په لومړي سر کې ټول هغه معیارونه چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري ورته ټاکل شوي پوره کړي او له هغه وروسته پوهنتون ته ارتقاع وکړي، نوي پوهنځي پرانیزي او تر څنګ یې په ځینو پوهنځیو کې د ماسترۍ پروګرامونه هم پیل کړي.

د ازهر د لوړو زده کړو موسسه له لوړو زده کړو وزارت څخه کومه ځانګړې غوښتنه نه لري، خو د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه وایي، ډېری خصوصي پوهنتونونه خپلې دایمي ودانۍ نه لري او په ډېره لوړه کچه مالیه پرې کوي، چې دغه څه یې د پرمختګ مخه نیسي. د دې تر څنګ، لوړو زده کړو وزارت د ولسمشر په امر په خصوصي پوهنتونونو کې د هر ډول نویو اقداماتو او تاسیساتو مخه نیولې ده، چې دا د خصوصي پوهنتونونو په زیان ده او د پرمختګ مخه یې ډپ کړې ده. دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته په یوه سترګه وګوري او د متوازن پرمختګ زمینه ورته برابره کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦,۵۰ |
| Rp. | ٤۹۲ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# درمان سرفه با ۱۰ روش موثر

ترجمه: احمد فردوسی

سرفه واکنش کاملاً طبیعی و سودمند و همچنین یک مکانیزم دفاعی بدن برای محافظت از گلو و مخاط آن در برابر عوامل تحریک‌کننده است. اما حالت مزمن و ادامه‌دار آن که به دلایل گوناگون رخ می‌دهد، آزاردهنده و آسیب‌زاست، مخصوصاً در موقع خواب. خیلی از افراد ترجیح می‌دهند حتی برای درمان سرفه شدید به جای مصرف داروهای شیمیایی، از روش‌های درمان خانگی سرفه استفاده کنند. برای همین در این مقاله می‌خواهیم شما را با بهترین روش‌ها برای درمان سرفه خشک که به ساده‌ترین شکل امکان‌پذیر است، آشنا کنیم.

سرفه‌های ناشی از سرماخوردگی، حساسیت یا عفونت‌های سینوسی، با داروهای رایج که نیازی به نسخه‌ی پزشک ندارند قابل درمان هستند. این نوع سرفه‌ها که ممکن است سرفه خشک یا خلط‌دار باشد، ناشی از ریزش مخاط گلو (به دلیل حساسیت یا سرماخوردگی) است که با تحریک پایانه‌های عصبی باعث سرفه می‌شود. این سرفه‌ها در شب‌ها شدیدتر و با احساس خارش در انتهای گلو همراه هستند و اگر ناشی از حساسیت باشد، با خارش چشم‌ها و عطسه همراه خواهد بود.

**درمان سرفه**

اگر گمان می‌کنید منشاء سرفه‌تان حساسیت است، می‌توانید آنتی‌هیستامین مصرف کنید. اگر پس از دو هفته نتیجه نگرفتید به پزشک و در صورت نیاز به متخصص حساسیت مراجعه کنید. اگر سرفه‌تان ناشی از سرماخوردگی خفیف است و تمایلی به مصرف داروهای شیمیایی ندارید، می‌توانید برای درمان خارش گلو و سرفه، مواد زیر را به خاطر داشته باشید.

**۱.عسل**

حتماً با خواص عسل آشنا هستید. اولین مورد پیشنهادی ما برای درمان سرفه، عسل است.

مصرف عسل به عنوان داروی گلودرد قدمت طولانی دارد؛ و بنا بر مطالعات صورت گرفته، اثر آن در تسکین سرفه خشک بیشتر از برخی داروهای رایج حاوی دکسترومتورفان است.

کافیست ۲ قاشق چایخوری عسل را با آب جوش یا دمنوش گیاهی و کمی آب لیمو مخلوط کنید تا یک داروی مؤثر داشته باشد. عسل خاصیت تسکین‌دهندگی دارد و آب لیمو به رفع گرفتگی کمک می‌کند. میل کردن عسل به تنهایی و یا همراه با نان هم می‌تواند مؤثر باشد.

**۲.پروبیوتیک**

برای درمان سریع سرفه به سراغ پروبیوتیک هم می‌توانیم برویم. پروبیوتیک‌ها به طور مستقیم در درمان سرفه نقشی ندارند، اما در تنظیم ترکیب باکتریایی روده‌ها مؤثرند. ترکیب باکتریایی بدن نقش مهمی در تقویت سیستم ایمنی بدن و عملکرد آن دارد. همچنین بر مبنای شواهد علمی لاکتوباسیلوس (از انواع پروبیوتیک) که در لبنیات یافت می‌شود، احتمال ابتلا به سرماخوردگی و آنفولانزا را کاهش می‌دهد و حساسیت نسبت به برخی محرک‌ها را مانند گرده‌ی گیاهان کم می‌کند.

شیر غنی‌شده منبع خوب لاکتوباسیلوس است. همچنین می‌توانید مکمل‌های پروبیوتیک را از داروخانه تهیه کنید. به علاوه برخی ماست های غنی‌شده و نان‌های تهیه‌شده از خمیر ترش حاوی پروبیوتیک هستند.

**۳.بروملین**

اگر فکرش را نمی‌کردید که آناناس برای تسکین سرفه خشک مفید باشد، احتمالاً تا به حال درباره‌ی بروملین (Bromelain) نشنیده‌اید.

شواهد علمی نشان می‌دهند آنزیم بروملین که در ریشه و میوه‌ی آناناس یافت می‌شود، به درمان سرفه خشک و روان شدن مخاط گلو کمک می‌کند. برای اینکه بیشترین تاثیر را بگیرید، روزی ۳ بار یک تکه آناناس یا ۱۰۰ گرم آب آناناس میل کنید.

اگر چه شواهد کافی در این باره وجود ندارد، اما برخی کارشناسان به اثر درمانگر بروملین بر سینوزیت و مشکلات سینوسی ناشی از حساسیت که ممکن است باعث سرفه شوند، باور دارند. همچنین بروملین گاهی برای درمان التهاب و تورم به کار می‌رود.

کودکان و بزرگسالانی که داروهای رقیق‌کننده خون مصرف می‌کنند، نباید مکمل‌های بروملین دریافت کنند. همچنین کسانی که در حال مصرف آنتی‌بیوتیک‌هایی مانند آموکسی‌سیلین هستند، باید در مصرف بروملین دقت کنند؛ زیرا جذب آنتی‌بیوتیک را افزایش می دهد.

به طور کلی، همیشه پیش از مصرف مکمل‌های دارویی جدید یا ناآشنا با پزشک مشورت کنید.

**۴.نعناع**

برای درمان سریع سرفه، نعناع هم خوب است. نعناع با خاصیت درمانگری‌اش معروف است. منتول موجود در نعناع گلو را تسکین می‌دهد، گرفتگی را رفع و مخاط گلو را نرم می‌کند.

می‌توانید نعناع را به صورت چای میل کنید یا آن را هنگام بخور مصرف کنید. ۳ یا ۴ قطره روغن نعناع را در ۱۵۰ میلی‌لیتر آب بریزید و همانطور که احتمالاً بارها انجام داده‌اید، حوله‌ای روی سرتان بیاندازید و به طور مستقیم بخار نعناع را تنفس کنید.

**۵. گل ختم**

ریشه و برگ این گیاه که در تابستان گل می‌دهد، از دوران باستان تاکنون به عنوان داروی خانگی سرفه و گلودرد استفاده می‌شود. هرچند برای اثبات این مسئله مطالعات علمی قابل اتکایی صورت نگرفته است اما جای نگرانی نیست چون مصرف گل ختمی خطری ندارد.

گل ختمی لعابی تولید می‌کنند که گلو را می‌پوشاند و آثار التهاب را تسکین می دهد.

امروزه می‌توانید ریشه‌ی گل ختمی را به شکل چای و کپسول پیدا کنید. چای گل ختمی تسکین‌دهنده‌ی سرفه و گلودرد است و از قدیم به عنوان یک داروی گیاهی برای سرفه استفاده می‌شود. بهتر است کودکان ریشه‌ی این گیاه را مصرف نکنند.

**٦. آویشن**

در برخی موارد آویشن برای درمان بیماری‌های تنفسی به کار می‌رود. برخی مطالعات نشان داده‌اند که مخلوط عرق آویشن و گل پیچک در تسکین سرفه و برونشیت خفیف مؤثر است. برگ آویشن حاوی فلاونوئید است که عضلات گردن و گلو را که در هنگام سرفه درگیر می‌شوند، شل می‌کند و موجب کاهش التهاب می‌شود؛ به‌همین علت از این گیاه به‌عنوان یک داروی گیاهی برای سرفه استفاده می‌شود.

تهیه‌ی چای آویشن ساده است؛ ۲ قاشق برگ آویشن خردشده را در یک فنجان آب جوش بریزید، سرپوشی رویش قرار دهید، پس از ۱۰ دقیقه آن را از صافی گذرانده و بنوشید.

**۷. غرغره‌ی آب‌نمک**

با اینکه پیش پا افتاده به نظر می‌رسد، غرغره‌ی آب‌نمک گلوی خراشیده را که باعث سرفه می‌شود، تسکین می‌دهد. برای این کار ۵/۱ قاشق چایخوری نمک را در ۲۳۰ میلی‌لیتر آب گرم حل کنید. فراموش نکنید که کودکان زیر ٦ سال نمی‌توانند به خوبی غرغره کنند و بهتر است درمان دیگری را برای آن‌ها به کار بگیرید.

**۸. حفظ آب بدن**

عفونت‌های تنفسی مانند سرماخوردگی یا آنفلانزا باعث آب‌ریزش سینوسی می‌شوند. تراوشات زیاد باعث خشکی و تحریک گلو و گاهی سرفه می‌شود. نوشیدن مایعات به حفظ مخاط سینوسی کمک می‌کند، همچنین باعث حفظ رطوبت غشای مخاطی می‌شود. این امر به ویژه در زمستان که هوا خشک‌تر است، مؤثر است. از این رو برای درمان سرفه شدید خود، در کنار روش درمانی اصلی خود، سعی کنید مایعات بیشتری بنوشید و آب بدن‌تان را حفظ کنید.

**۹. حمام بخار و دستگاه رطوبت‌ساز**

دوش آب داغ با کاهش تراوشات بینی به تسکین سرفه و حتی درمان سرفه شدید نیز کمک می‌کند. این روش نه تنها سرفه‌ی ناشی از سرماخوردگی را بلکه سرفه‌های ناشی از حساسیت را تسکین می‌دهد. خشکی ناشی از تراوشات زیاد بینی آزاردهنده است؛ در چنین محیط‌هایی دستگاه‌های رطوبت‌ساز کمک‌کننده هستند. هوای مرطوب در تسکین سرفه مؤثر است، اما باید از رطوبت بیش از اندازه هم اجتناب کرد.

فراموش نکنید که تمیز نکردن دستگاه‌های رطوبت‌ساز آنها را تبدیل به منبع تولید انواع قارچ و باکتری می کند.

**۱۰. حذف تحریک کننده‌ها**

عطرها و خشبوکننده‌ها معمولاً بی‌ضرر هستند، اما در برخی افراد ایجاد التهاب مزمن سینوس و تولید مخاط اضافی می‌کنند که باعث سرفه می‌شود. بنابراین جانب احتیاط را نسبت به محصولات عطردار رعایت کنید.

بدترین تحریک‌کننده‌ی موجود در هوا دود سیگار است. تقریباً همه‌ی سیگاری‌ها پس از مدتی دچار سرفه، که به سرفه‌ی سیگاری‌ها معروف است، می‌شود. اطرافیان افراد سیگاری هم معمولاً از برخی التهاب‌های مجاری تنفسی رنج می‌برند. بهترین راه‌حل، ترک سیگار است. (سرفه‌های مزمن شدید در افراد سیگاری ممکن است نشانه‌ی آمفیزم یا سرطان ریه باشد؛ اگر سیگاری هستید و از سرفه‌ی مزمن رنج می‌برید به پزشک مراجعه کنید).

# د سولې عالي شورا: لنډمهاله اوربند د بې باورۍ فضا له منځه وړلی شي

د سولې عالي شورا ویلي، لنډمهاله اوربند هم د طالبانو، افغان حکومت او امریکا تر منځ د بې باورۍ فضا له منځه وړلی شي.

دا په داسې حال کې ده چې لنډمهاله اوربند ته د طالبانو د احتمالي چمتووالي په اړه د راپورونو له خپرېدو سره سم، د سولې عالي شورا ویلي، اوربند کولای شي د افغانانو تر منځ د مذاکراتو لپاره زمینه برابره کړي.

د دې شورا ویاند اسدالله زایري ویلي چې د اوربند په اړه د دغې ډلې له مشرانو سره د مشورې په موخه له قطر نه پاکستان ته د طالب پلاوي سفر د سولې په برخه کې یو ستر ګام دی.

زایري ټینګار کړی چې د طالبانو له لوري ان د موقت اوربند اعلان کولای شي د باور جوړونې لامل شي.




هغه زیاته کړې: «ټولې نښې نښانې د دې څرګندويي کوي چې مقابل لوری یعنې د طالبانو تحریک دې پایلې ته رسېدلی چې که لنډمهاله اوربند هم وشي، خندونه او بې باوري به له منځه لاړ شي او شته واټن به لنډ شي».

دا څرګندونې په داسې حال کې مطرح کېږي چې د وسله والو طالبانو یو پلاوی د سولې د هوکړې د لاسلیک په اړه د دغې ډلې له مشرانو سره د مشورې په هدف له قطر نه پاکستان ته تللی دی.

سرچینو ویلي چې د طالبانو ځینې مشران پر لنډمهالي اوربند هوکړې ته رسېدلي دي.

خو د طالبانو د پوځي او سیاسي برخو ویاندویانو ویلي چې تر دې دمه د دغې ډلې د مشرانو له لوري د احتمالي اوربند پرېکړه نه ده شوې.

دا په داسې حال کې ده چې امریکایي چارواکو او طالب استازو تر دې دمه په قطر کې د سولې د هوکړه لیک د لاسلیک په تړاو لس پړاوه خبرې اترې کړې دي. افغان حکومت ټینګار کوي چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې له هوکړې وروسته باید طالبان اوربند هم اعلان کړي.

خو طالبانو تر دې وړاندې له افغان حکومت سره د سولې خبرې رد کړې او ویلي یې دي چې له حکومت سره به هم د یو سیاسي اړخ په توګه خبرې وکړي. خو د افغان حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله د جمعې په ورځ یو ځل بیا ټینګار وکړ چې د سولې مذاکرات به د افغان حکومت له حضور پرته کوم ځای ونه نیسي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غـوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومي اتمه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۹مه | ٤٨٧یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | ۱۷ | ۱۸ | ۱۵ | ۱۹ | ۱۷ |
| -۲ | ۱ | ۰ | ٤ | ٤ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیګر ۰۲:۳۳ | ماښام ۰٤:۵۱ | ماخوستن ۰۶:۲۱

## نړۍ





## ملګري ملتونه: د سوریې په ادلیب کې د تازه نښتو له کبله لسګونه زره کسان بې ځایه شوي دي



د ملګرو ملتونو د مرستو د همغږۍ اداري یا اوچا ویلي، د سوریې په ادلیب ولایت کې په نویو تاوتریخوالو کې لسګونه زره ملکیان اړ شوي چې خپل کورونه پرېږدي.
یادي ادارې ویلي چې د سوریې په شمال کې په ادلیب ولایت کې د تاوتریخوالي زیاتېدو له کبله دوه سوه او ۳۵ زره ملکیان په تېره یوه میاشت کې له سیمې تښتېدلي دي.
رویټرز خبري اژانس د ملګرو ملتونو د مرستو همغږۍ اداري یا اوچا له قوله راپور ورکړی، چې تر ټولو زیات ملکیان د ډسمبر له ۲۵مې راهیسې له ادلیب ولایته وتلي دي.
اوچا په خپل نوي راپور کې ویلي چې د سوریې په شمال- لوېدیځ کې د تاوتریخوالي له زیاتېدو سره په ادلیب ولایت کې ملکیان یو ځل بیا له سخت وضعیت سره مخ شوي دي.
په راپور کې راغلي چې په ادلیب ولایت کې مرات النعمان ښار او شاوخوا کلي یې په بشپړه توګه له اوسېدونکو تش شوي دي.
د یادونې ده چې مرات النعمان ښار د سوریې له مهمو ښارونو دی چې د بشارالاسد د رژیم وسله وال مخالفان یې اداره کوي.
دا په داسې حال کې ده چې د اسد ملاتړو ځواکونو په دې وروستیو کې په دغه ښار کې د پرمختګ خبر ورکړی او د هغه ملاتړی هېواد روسیه هم په دغو عملیاتو کې برخه لري.

## د روسیې دفاع وزارت: د اونګارډ په نامه تر غږ د ۲۰ ځله چټکو توغندیو د نصبولو لړۍ پیل شوې ده



د روسیې دفاع وزارت ویلي، د اونګارډ په نامه یې تر غږ د ۲۰ ځله چټکو توغندیو د نصبولو لړۍ پیل کړې ده.
د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ویلي، دا اټومي وسلې لېږدوونکي توغندي به پر نورو هېوادونو روسیه مخکې کړي.
که څه هم روسیې نه دي ویلي چې دا توغندي یې چېرته ځای پر ځای کړي، خو چارواکو تر دې وړاندې ویلي وو چې دغه توغندي به د اورال غرونو په شاوخوا کې ځای پر ځای کړي.
پوتین ویلي: «دغه اټومي وسلې لېږدوونکي توغندي تر غږ ۲۰ ځلې چټک دي چې روسیه به ورسره د نورو هېوادونو په پرتله مخکې شي».
په دغو توغندیو کې داسې یو سیستم ځای پر ځای شوی چې څرک لګول یې ناممکن دي.
د روسیې د دفاع وزیر سرګي شویګو ویلي، اونګارډ توغندي د ډسمبر په ۲۷مه د مسکو پر وخت لس بجې خدمت ته چمتو شول او هغه دا یوه تاریخي پېښه بللې ده.
پوتین ویلي، اونګارډ سیستم د اوسنیو او راتلونکو توغندیو سیستمونه ماتولی شي، چې په خبره یې هېڅ داسې حکومت نشته چې تر غږ څو برابره چټک توغندي دې ولري او یا داسې توغندي چې تر لویو وچو تېرېدای شي او چټکتیا یې تر غږ څو برابره لوړه وي.


## ولسی جرگه: ادارۀ تدارکات ملی کارهای خلاف قانون انجام می دهد و به څارنوالی معرفی شود



حاضر نشدن رئیس ادارۀ تدارکات ملی به ولسی جرگه، خشم اعضای این جرگه را برانگیخت و این اداره را به کارهای خلاف قانون و فساد متهم نموده، گفتند که رئیس این اداره باید به څارنوالی معرفی شود.
الهام عمر هوتکی رئیس ادارۀ تدارکات ملی، به اساس فیصلۀ کمیتۀ روسای ولسی جرگه، به نشست دیروز این جرگه فرا خوانده شده بود؛ اما حاضر نشد و با ارسال نامه ای عنوانی جرگه، گفته است که در نشست روز چهارشنبه ولسی جرگه شرکت می کند.
اما میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه گفت: «ما تحت قومانده ادارۀ تدارکات نیستیم، هفتۀ گذشته نیز شامل آجندا شده بود، نیامد و خواستار مشخص شدن پروژه ها شده بود». وی از اعضای جرگه خواست تا در مورد تصمیم اتخاذ کنند .
میر حیدر افضلی رئیس کمیسیون امور دفاعی این جرگه گفت که به اساس بررسی های این کمیسیون، ادارۀ تدارکات ملی در حالیکه شفاخانۀ ۴۰۰ بستر با کمبود ادویه مواجه است، در یک و نیم سال گذشته قرارداد ادویه را منظور نکرده است، قرارداد برنج وزارت دفاع ملی را به شرکتی داده است که خلاف قرارداد عمل می کند و برنج خارجی را در بوجی های برنج وطنی به وزارت دفاع می دهد؛ در حالیکه به اساس قرارداد، باید برنج وطنی را به وزارت یادشده تهیه نماید .
وی همچنان مدعی شد که قرارداد گاز مایع و تیل وزارت دفاع ملی، به شرکتی داده شده است که شرایط و توانایی لازم به این قرارداد ندارد.
به گفتۀ او، به این شرکت درحالی قرارداد گاز مایع و تیل وزارت دفاع داده شده است که سال گذشته، قرارداد تیل شاروالی کابل را گرفته بود؛ اما نتوانست تیل مورد نیاز شاروالی را مطابق قرارداد تهیه کند.


## ژوند

### تاسو هم اتل کېدای شی



هغه ورځ مې یو کتاب لوست. یوه مقاله مې مخې ته راغله، د ډېرښتن انزوورت په نوم یو دیارلس کلن هلک پکې یاد شوی و، چې اوسمهال په کاناډا کې د خپل کوچني ښار اتل و. څو ورځې مخکې یې یو ټولګیوال په ټولګي کې تر څنګ ناست و او شیریني یې زبېښله. یو هلک خندوونکې خبره وکړه. دا موضوع د دې سبب شوه څو د شیرینۍ یوه ټوټه د هلک ستوني ته تېره شي. د ټولګي ټول هلکان دومره وارخطا شوي وو چې هېڅ یې هم نشوای کولای. د هلک ساه بنده شوه او د مخ رنګ یې والوت. ډېرښتن فکر وکړ چې د ملګري د مړینې ورځ یې را رسېدلې ده. فکر یې وکړ چې انا یې ورته د هیم لیک (په ستوني کې د بند شوي شي د را ایستلو یو ډول تخنیک دی) چل ښودلی و. هغې په چټکۍ سره له دې چل نه ګټه واخیسته او د ملګري ژوند یې وژغوره؛ څومره ښه. د ښوونځي مدیر پرون وویل: «هغه تر ټولو ځیرک هلک دی چې تر اوسه مې لیدلی دی. هغه یو خارق العاده هلک دی». ستاسو لپاره یوه غوره کنایه: عظمت او لویوالی په موږ هر یوه کې شته. تاسو هم اتل کېدای شی.

### ډېر خوب د ګټې پر ځای تاوان کوي



ایا پوهیږۍ چې زیات خوب کول ستاسې د خوب د ګډوډېدو نښه ده؟ یوازې دا نه؛ بلکې زیات خوب مو پر نفسي روغتیا ژور اغېز کوي او د خپګان په څېر مو پر ځینو ناروغیو اخته کوي. پوهان په عام ډول د شپې له شپږو څخه تر اتو ساعتونو د خوب سپارښتنه کوي، خو له دې زیات خوب کول په ویښېدلو او له کټ څخه په پاڅېدلو کې انسان ته ستونزې رامنځ ته کوي. همدغه ډول زیات خوب مو پر نیمه سردردۍ اخته کوي او له رڼا سره مو حساسیت پیدا کوي. هغه کسان چې زیات خوب کوي، پر لاندې ناروغیو اخته کیدلای شي:
سر دردي: له زیات خوب څخه رامنځ ته کېدونکې سر دردي پر اعصابو ژور اغېز کوي. په ځانګړي ډول هغه کسان چې د ورځې په اوږدو کې ډېر خوب کوي، د دوی د شپې خوب خرابیږي او د سهار پر مهال یې سر درد کوي.
د ملا دردونه: ډېر خوب کوونکي د ملا دردونو څخه هم کړېږي. پوهان وایي چې زیات وخت خوب کول په ملا کې د اوږدمهالو دردونو لامل کیږي.